مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب‌الله زغم ۲۰۲۳/۰۶/۱۰

بیا هم اول مقام

د نړیوال روغتیایي سازمان د نوي رپوټ پر اساس افغانستان سږ کال هم د میندو لپاره تر ټولو بد ځای وګڼل شو. مانا دا چې په افغانستان کې تر بل هر هېواد ډېرې میندې د امیدوارۍ او زېږون پر مهال خپل ژوند له لاسه ورکوي.
دې رپوټ یوه پېښه رایاده کړه، پر ۱۳۸۴ کال ما د هلمند په کجکي ولسوالۍ کې په یوه شخصي کلینیك کې کار کاوه. نیمه شپه چا د کلینیك ور وټکاوه. د څنګ کلي یوه سړي په ستني پسې راغلی و. ((اوکسي توسین)) داسې پېچکاري ده، چې د زېږون دردونه زیاتوي او د زېږون بهیر رالنډوي. دا په خاصو حالتونو کې د نسایي ډاکترانو له خوا په معین وخت کې لګول کېږي. که بې وخته ولګول شي؛ نو د رحم خوله به بنده وي او رحم به له پاسه سخت زورونه وهي، نتیجه به یې دا شي چې یا به رحم څېرېږي او یا به پر ماشوم دومره زور راځي چې هماغلته به ومري. ما سړي ته وویل چې دغه ستن خو خپل وخت لري، د لګولو ځانته طریقه لري، تاسې کله په پوهېږئ. هغه وویل: ((یه، موږ یې هر وخت پخپله لګوو))
ما کلینیك والا پرې نه ښود چې پېچکارۍ ورکړي؛ خو نه وم خبر چې دغه پېچکارۍ د کلي په پرچون دوکان کې هم پیدا کېږي. سهار چې د باندې ووتو، د ښځې جنازه یې د خلکو پر اوږو بار وه او بچی یې هم له لاسه وتلی و.
میندې د زېږون پر مهال د بېلابېلو لاملونو په وجه له منځه ځي. ځینې لاملونه یې خورا پېچلي وي او ان په امریکا او بریتانیا غوندې پرمخ تللو هېوادونو کې یې هم چاره نه کېږي؛ خو دغه لاملونه خورا لږ دي. زموږ په هېواد کې ډېرې میندې داسې ستونزې له منځه وړي، چې په ډېرې اسانۍ سره یې چاره کولای شو.
که چېرې ماشوم د مور په نس کې سم پروت وي یانې سر یې کښته او پښې یې پورته وي، جوړه یې د رحم خوله نه وي بنده کړې او پر خپل وخت جلا شي، اوبه یې پر وخت راوبهېږي، نو زېږون به یې بې جنجاله تر سره شي. په الټراسوند یا ټلویزیوني معاینې ماشوم، جوړه یې، اوبه او هرڅه په ښه توګه معلومولای شو او که کوم شی ناسم وي وار له واره یې د علاج فکر کولای شو.
د مور د هېوکو جوړښت هم په نارمل ولادت کې رول لري، ماشوم چې نرۍ ته راځي د هېوکو او پلو په منځ کې له یوې نرۍ لارې، چې ولادي کانال نومېږي، تېرېږي. دغه کانال باید د ماشوم د سر تر اندازې پراخ وي. که چېرې د مور د سرېښنې هېوکې کاږه واړه وي، مثلاً که د چا یوه پښه لنډه وي دغه هېوکې یې کرېږي، نو د ماشوم زېږول به ورته ډېر خطرناکه وي.
ولادي دردونه هم باید منظم، پر وخت او په کافي اندازه قوي واوسي، تر څو ماشوم بهر خوا ته ټېله کړای شي. د رحم خوله باید پر وخت خلاص شي.
که چېرې له یادو شویو شیانو څخه کوم یو یې غیر نارمل وي؛ نو د مور او یا د ماشوم یا د دواړو د مرګ خطر ورسره مل وي.
څه باید وکړو چې د میندو د مړینې مخه ونیسو؟
په دې اړه هم زموږ حکومت مسول دی او هم خلك. حکومت باید کلینیکونه جوړ او په وسایلو یې سمبال کړي، ښه ډاکترانې وروزي او هر چا ته صحي خدمتونو برابر کړي.
د خلکو مسوولیتونه هم ډېر دي، دوی باید دغو ټکو ته پام وکړي:
* د نا بالغو نجونو تناسلي سیستم پوره انکشاف نه وي کړی، د دوی د سرېښنې هېوکې او پلې د زېږون تاب نه لري. همدارنګه رحم یې نسبتاً نازك وي او د ډېر زور پر وړاندې تاب نه شي راوړی؛ نو خلك باید خپلې لوڼې په کم عمر کې واده نه کړي. البته د شریعت او د طب له نظره د بلوغ مانا سره توپیر لري. په شریعت کې همدا چې د نجلۍ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

میاشتېنۍ مریضي (حیض) پیل شي، بالغه ګڼل کېږي؛ خو د طب له نظره نجوني باید اتلس کلنۍ ته ورسېږي، چې بالغې یې وګڼو. تر اتلس کلنۍ وروسته به ولادي کانال د زېږون لپاره مناسب حالت پیدا کړي.
* خلك باید هڅه وکړي چې د زېږون لپاره خپلې مېرمنې کلینیك یا روغتون ته بوځي. په کور کې ولادت د نورو خطرونو تر څنګ په میکروبي ناروغیو د اخته کېدوخطر هم لري، ځکه چې کور او هغه وسایل چې د ولادت لپاره کارېږي له میکروبو پاك نه وي.
* خلك باید له خپل سرو کارونو او د خپل سرو دواګانو له کارونې ډډه وکړي. ویل کېږي چې پخوا به وطني دایه ګانو هغه مېرمنې چې اولاد به یې له ډېرو دردونو وروسته هم نه زېږېده، په کوټه کې بندې کړې او بوسو ته به یې اور ورته کړ، د بوسو ترخه لوګي به په ښځو ټوخي راوستل. دایه ګانو داسې ګومان کاوه چې د ټوخي پر وخت به د مور پر نس زور راشي او بچی به یې لاندې خوا ته راټېله کړي. که چېرې ولادي کانال تنګ وي، د ماشوم سر غټ وي یا ماشوم په رحم کې کوږ پروت وي، دغه کار هم د مور او هم د اولاد د مرګ سبب ګرځي. د انسان ژوند هومره بې قدره شی نه دی، چې موږ هر یو خپلې تجربې ورباندې وکړو.
* پر له پسې ولادتونه، مینځ په بدني لحاظ کمزورې کوي او د زېږون د وخت مړینې ورسره زیاتېږي. ښه به دا وي چې د دوو بچیو تر منځ لږ تر لږه درې کاله واټن واوسي او که پینځه کاله ځنډ په کې راشي، لا به ښه وي، ځکه چې مور به د خپلو اولادونو پاکوالي او روزنې ته هم پوره وخت ولري.
* او د پای خبره دا چې: د دې لپاره چې په وطن کې مو په کافي شمېر کې تکړه ډاکترانې ولرو، باید خپلې خویندې او لونې ښوونځیو ته ولېږو.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ